ليکوال: سراج الحق ببرک زی ځدراڼ

۲۰۱۷/۱۰/۱۴

# افغانستان کې د جنګسالارانو او ملېشو ماتيدونکي ځواک

## جنګسالاران تر طالبانو په مراتب بد تره دي

په افغانستان کې جنګسالاران او ملېشه يي ځواکونه د افغان دولت په وړاندې يو شکمن مخالف ډېل رول لوبوي. دوی په شمال کې د پښتنو قومي تصفيي جګړه روانه کړي ده. خو د کابل حکومت له لوري دوی د خپلو متحدينو په څير د طالبانو په وړاندې جګړه کې کاروال کيږي. دا يوه داسي ستراتيجي ده، چي معکوس پايلي ترينه ترلاسه شوي دي.

د بشري حقوقو سازمان " Human Rights Wach " تير کال د جنون مياشتي په پای کي يوه رپوټ کي ليکي، ,,کله چي د افغانستان په شمال کي پښتون مېشتي کليو کي د طالبانو ضد عمليات تر سره شول، په دي ترڅ کي لږ تر لږه څلور ملکيان ووژل شول او شل نوره ټپيان شول. په دې عملياتو کي که څه هم افغان وسله وال ځواکونو ګډون درلود، خو د رپوټ پر بنسټ د دي عملياتو مشری د اوزبکو جنبش ملېشو مشر عبدالرشيد دوستم په غاړه درلوده. دغه پر نړيوال کچ پېژندل شوی د جنګي جرايمو جنايتکار وسمهال د هيواد ولسمشر مرستيال دی,,. د بشري حقوقو سازمان د همدې رپوټ پر بنسټ د جنبش ملېشه يي ځواکونو په يوه بله سيمه کې، کله چي د طالبانو جنګيالي لږ تر لږه د څلورو کليو څخه ووتل، د جنبش ملېشي پرته له حکومتي سرتيرو دغو کليو ته ور ننوتلي. په دې عملياتو کې پينځه ملکيان ووژل شول او دوولس نور ملکيان ټپيان شول.

د بشري حقوقو سازمان خپل رپوټ د عيني شاهدانو پر بنسټ ليکلي دی. شاهدانو ويلي دي، چي د جنبش جګړه مارو ملېشو په دغو کليو کې د څو مياشتو راهيسي چور، چپاول، د ډاروني، ځوروني او له وحشت ډکې کړنې رواني کړي دي. د جنبش ملېشو کليوال د خپل توکمي تراو له امله نيغ په نيغه په نښه کړي وه او تر وهلو،ټکولو او ځورونکي ناوړو بريدونو لاندې نيولي وه. ملېشو د نورو بد رد توهين او تحقير ويلو سربيره کليوالو ته داسې هم ويلي وه، ,,چي تاسې هيسې هم څه حق او حقوق نلرې، ځکه تاسې پښتانه ياستی ,,. له دې سيمي څخه ووځۍ، دا خبر هم د بشري حقوقو سازمان په خپل کلني رپوټ کې ليکي دی.

د افغانستان په شمال کې پښتانه په زوره د خپلو کورنو پريښودلو ته اړ کړل شوي دي. د دوی سيمي او کلي د ملېشو، جنګسالارانو، مجاهد، طالب، داعش او د رواني جنګ جګړو ښکار ګرځيدلي دي. له دې امله د پښتنو په سيمو کې هر ډول جنګي جرايم، د وسلو قاچاق، د مخدره توکو چاقاق او ورسره ناامنيو ورځ تر بلې زور اخيستي دی.

د بشري حقوقو سازمان د کابل پر حکومت باندې هم کلکي نيوکي کوي، چي حکومت د دوستم د ملېشو په وړاندې هيڅ غبرګون نه ښيي او نه يواځي د عملياتو مخه نيسي، بلکي دوی ته اجازه ورکول کيږي، څو دا ډول ناوړه زړه بوګنونکي کړني تر سره کړي د بشري حقوقو سازمان په ټينګار سره وايي، حکومت پلوه ملېشي د افغانستان ملي امنيت، ثبات او ملي حاکميت ته ډير ستر ګواښ رامنځ ته کړي دی.

د فارياب په ولايت کې ورستي مرموز قتلونه او وحشي کړنې د دوستم ملېشو په لاس تر سره شوي دي، دا خبر د بشري حقوقو سازمان غړي آغلي پاتيرسيه ګوسمن ليکي دی.

حقيقت دا دی، چي دغه ملېشه يي ځواکونه او په خپله د ولسمشر مرستيال د خپلو تر سره کړي ناوړو جنګي جرمي کړنو له کبله محاکمي ته نه دی ودرولي شوي. له همدې کبله د افغانستان په شمال کې امنيتي وضعيت ورځ تر بلې کمزوره او بد تره کيږي.

## په افغانستان کې جنګي جنايات تر قالينې لاندې نستل کيږي

د جنګسالارانو او ملېشو ځواکونه د کورنيو جګړو سره تړاو لري. دوی له پيله تر اوسه د افغانستان ولسواک بهير او بيا رغوني په لاره کې يو ستر خنډ ګرځيدلي دي. د ۲۰۰۱ کال را هيسې دا توپکمار، جګړمار شکمن خپلسری



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ

او د دولت مخالف وسله وال کسان د افغانستان سياسي سيستم په ټولو اړخونو کې کليدي رول لوبوي. دا خبره ,,د افغانستان د تحليګرانو شبکې مشر ,, ښاغلی توماس غيوتګه کړي ده.
د تيرو څلوېښتو کلونو د زرګونو وژل شويو افغانانو جنګي مجرمين همدا اوس د دولت په ځينو لوړو پستونو کې په دندو ګمارلي شوي دي. دغه مخ توري تورن کسان نړيواله ټولنه او د بشري حقونو سازمانونه يې ډير ښه پيژني، د جنرال د ليلي دښتي قتلونه او ډله ييزې وژنې او د طالبانو جنګي بنديانو وژنو په اړه حقايق او شواهد را ټول شوي دي، خو د جنګي مجرمينونو پر وړاندې هيڅ ډول قانوني اقدام نه کيږي.

## طالبان په مراتب تر جنګسالارانو بهتره دي

دغه خبره نه يوازې د المان په سياسي رسنيو کې عامه شوي ده، بلکې په خپله يو جنګسالار بل ملېشي مشر ته په ډګر وايي. د افغانستان په شمال کې دوستم او عطا محمد نور د لسيزو راهيسې د يو بل سر سخته سيالان او دښمنان دي. افغان ولس د دوی تر منځ د ژورو اختلافاتو شاهدان دي. عطا محمد د دوستم په هکله وايي، ,,طالبان په مرا تب بهتره دي تر دوستم جنايتونو، دوستم يو نامتو غل، چپاولګر او فاسد انسان دی,,.لږ موده ورسته عطا محمد او دوستم (د افغانستان د ژغورنې په نامه)يو ايتلاف اعلان کړو، خو په تېرو څو کلونو کې د دواړو ملېشه يې ځواکونو ترمنځ خونړي نښتي شوي دي. د دوی د جګړو بيه افغان ملکيانو پرې کړي ده. د طالبانو غورځنګ د همدې جنګسالارانو او ملېشو د خپلمنځي جګړو له امله رامنځ ته شوي دی.
په افغانستان کې ډير لږو او په ډيره ټيټه کچه د يو څو استثناو پرته نور هيڅ څوک د بشری حقونو د سرغړونو يا جنګي جنايتونو په تور، چې ټولو ته د نومونو له مخې پيژندل شوي کسان دي او د دوی نيښونکې جنايات په مستند ډول ثبت شوي دي، نه نيولي شوي او نه محکمې ته ودرولي شوي دي.
د جنګي جنايتونو محکمې پر ځاې د امريکا متحدو ايالاتو په مشری د تش په نامه د,, big tent prinzip ,, يا د لوی خيمې پرنسيب افغانستان ته وارد کړل شوي دی. د دې پرنسيب پر بنسټ د جنګسالارانو او د ملېشو مشران بايد ټول تر يوې خيمې لاندې سره کيني او له بهره بايد څوک د دوی څنډ ونه ګرځي، جنګسالاران له دې لارې پر ټول دولتي سيستم باندې د ننه ځځه واکمن شوي دي.
د دوستم د نوم سربيره د کرزی حکومت په دوران کې پر کريم خليلي، عبدالرب رسول سياف، محقق اولا د مخه مړ شوي قسيم فهم باندې دا ډول تورونه دي، چې دغه خلک په ګڼ شمېر جنګي جناياتو کې ککړ دي. د بېلګې په توګه پر ولايتي کچ قضيې د هرات پخواني والي اسماعيل خان او د بلخ نه خوزيدونکې د مافيايې کړی مشر د بلخ خونخواره بدماش (والي) عطا محمد نور تر ننه هلته حاکم دی، يادوالي شو.

## د کندز ښار سقوط د څېړولو قضيه

د افغانستان د سياسي چارو څارونکي او کتنونکي په دې اند دي، چې د طالبانو بريالیتوبونه د ملېشو ځواکونو د ځښتو ډيرو وحشي او ظالمانه کړنو سره تړاو لري. له همدې امله په تير کال کې طالبانو په مؤقتي ډول د کندز ښار ونيولو. که څه هم د کندز ښار سقوط لنډ مهاله وه، خو د ناټو ځواکونو مشر د کندوز ښار د ننداری ډکه نيونې قضيه کې مسوول د افغان وسله وال پوځ په مشرتابه کې د نه همغږي ستونزې ښوولي ده.
د دې اندونو په مقابل کې بيا (Yale University) د ياله نړيوال پوهنتون کې سياستپوه استاد پروفسور جونسن ليال وايي، د طالبانو له لورې د کندوز ښار فتحې يا نيولو وړاندوينه اټکل کيدو، ځکه طالبانو په دې ورستيو دوو کلونو کې د کندوز ښار په شاخوا سيمو کې په ورو ورو خو په ډاډمنه توګه خپل شتون او اغيز پراخ کړي وه. همداراز دوی د کندز ولايت ګاونډ ولسوالی تر بغلان او تخار ولايتونو پوري سيمې په خپل کنټرول کې راوستلي وی,, د ښاغلی جونسن ليال په اند,, د کابل د کمزوري مرکزي حکومت نه شتون او همدارنګه طالبان د مفسدو، په خپلسرو او جنايتکارو توپکمارو ملېشه يې ځواکونو له شتون څخه ګټه اخلي، د دوی د ناوړو کړنو له کبله طالبان سيمه ييز خلک خپلو ليکو ته جلبو جذبوي او طالبان خپل ځانونه د يو بهتره سياسي بديل په توګه خلکو ته وړاندې کوي.
,,افغانستان پيژندونکی پروفيسور ليال د څېړنو او شننو مرکز د افغانستان پر سياسي حالاتو باندې تمرکز لري,,.
همدارنګه په کابل کې سياسي کارپوهان هم په دې اند دی، چې د کابل کمزوری مرکزي حکومت حکومتوالی او دولتي امن او نظم نه شتون له امله ملېشه يې ځواکونه عام وګړي په سيستماتيک ډول د طالبانو غيږ او لمن ته


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالې د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ

ورغورځوي. دا هم یو موندلي واقعیت دی، چې په دې ورستیو وختونو کې د دوستم ملېشې پرته له مجازاتو بیا خلې پر عامو خلکو بریدونه او ظالمونه پیل کړل.

جنګسالاران یا جنګ غوښتونکي د ناقانونه کاروبار، فساد او قاچاق سربېره د واک نورو توکو ته هم اړتیا لري، لکه د ملېشې ځواک جوړولو ته اړتیا، تر یوې بریده پورې د سیمه ییز خلکو د ملاتړ ته اړتیا او جنګسالاران یو دښمن لوري ته هم اړتیا لري. د افغانستان شمال یوه ګڼ توکمیزه سیمه ده دا ټول توکې په پریمانه کچه هلته موندل کیږي.

د بلخ ولایت د مافیا مشر (والي) عطا محمد د مخدره توک یو لوی قاچاقبر او وسله پلورونکي دی، ده تر خپل لاس لاندې پولیس د مخدره توکو په سوداګرۍ کې ګمارلي دي. عطا محمد نور ته د ده خپله شخصي ملېشه په بلخ او ګاونډي ولایتونو کې استخباراتي دندې تر سره کوي.

د افغانستان په شمال کې د عطا محمد نور هدفي وژنې چې موخه د پښتنو لړکیو مخورو سیاسي مشرانو، شخصیتونو وژنې ده. عطا محمد نور له دې لارې د پښتون وژنې لړۍ پیل کړې ده. په دې اړه یوه الماني خبریال ښاغلی مارک ټونرو یو مستند فلم چمتو کړي دی. د المان د لومړۍ ټلویزیون ARD د څېړنیز ژورنالیزم خبریال ښاغلی مارک ټونرو د عطا محمد نور د پښتون وژنې په اړه پلټنې کړي دي. دی په خپله د نړۍ د ګواښمنو ولسونو ټولنې Gesellschaft für bedrohte Völker سره هم همکاري لري، دغه ټولنه د بشري حقوقو د ملاتړ یوه ټولنه ده.

الماني خبریال د عطا محمد نور د جنایاتو په اړه کره لاسوندونه او شواهد په یوه مستند قلم کې را ټول کړی دي او دې څېړنوال ژورنالیست د خپلو کره اسنادو پر بنسټ یو ټلویزوني فلم په نامه د ،، قتلونه په شمال کې ،، Morde im Norden ،، جوړ کړي دی. په دې فلم کې د عطا محمد نور توره، منحسوسه، خونخواره، متعصبه، ظالمه کرغیرنه څېره او د هغه د مافیایي دوله حکمرانۍ څخه پرده پور ته کوي او په دغه فلم کې د عطا محمد نور د جنګي جنایاتو یو څو ټکان ورکونکي شیبې او انځورونه ښودل کیږي. دا فلم په مستند ډول ښیي چې عطا محمد نور څنګه په شمال کې قومي تعصباتو ته لمن وهي او پر نورو توکمونو باندې ناروا بریدونه کوي. دغه فلم د المان په ډیرو ټلویزیونو کې په نامه دی SWR2, WDR 5 ښودل شوي دی. د عطا نور دغه جنایتونه په شمال کې د ایساف سیمه ییزه قوماندانۍ په سیمه کې تر سره کړي دي. د افغانستان شمالي سیمې د المان وسله وال پوځ تر کنټرول لاندې سیمې دي.

څېړنوال ژورنالست لیکي، کله چې ده په خپله د الماني پوځي افسرانو څخه په یوه ځانګړې اعتبار کې سیمه ییزو قوماندانو ته د نقدي پیسو ورکولو کچې په اړه پوښتنې وکړې، ده ته پته ولګیده چې په شمال کې په ریښتینه مانا واک له چا سره دی. په شمال کې تر سلو ډیر جنګسالاران او د زرګونو په شاوخواکې ملېشې شتون لري. یوه بله الماني افسره د افغانستان د همغږۍ لپاره د نړیوال بښنې سازمان کارمنده میرمین کارله شیفتر داسې توضیحات وکړي دي، د المان وسله وال پوځ د دوستم په نیولو کې د دوستمي د ملېشو په وړاندې هیڅ چانس نه درلود.

د المان د نړۍ د ګواښمنو ټولنې مشر( ښاغلي تیلمن شملیځ غید)په یوه نړیوال کنفرانس کې د المان فدرالي حکومت او نړیوالي ټولنې څخه په کلکه وغوښتل، په افغانستان د بشري حقوقو فعالانو څخه ملاتړ وکړئ او د جنګ غوښتونکو جنګسالارانو سره له کومک او همکارۍ لاس واخلئ.

د امریکایانو د جګړو ورځنۍ ژورنال یا کتاب کې داسې لیکلي شوي دي، د افغان جنګسالارنو واکمنۍ د نړیوال سیاست په غیر کې خورا ډېره پیاوړي شوي ده، د المان د نړۍ ګواښمنو ټولنې مشر ښاغلي تیلمن شملیځ غید لیکي، چې په ۲۰۰۹ کال کې د جولای میاشتې په اوولسمه نېټه د المان د جګړو ورځنۍ ژورنال یا کتاب کې داسې لیکلي شوي، په شمال کې د بلخ والي عطا محمد نور د المان وسله وال پوځ خورا مهم همکار دی او بیا لیکي، چې عطا محمد نور په خپله طالبانو دې ته وهڅول، د بلخ پر ولایت باندې برید وکړي، څو د کرزي حکومت کمزورتیا ثابته کړي.

د المان د نړۍ د ګواښمنو ټولنه عطا محمد نور په دې تورنوي، چې د افغانستان په شمال توکمېزه جبري شړنې پیل کړي دي او په شمال کې د پښتنو لړه کیو مخورو مشرانو او شخصیتونو باندې سیاسي قتلونه تر سره کوي. د المان د نړۍ د ګواښمنو ټولنه د المان فدرالي حکومت ته هغه ژمنې بیاځلي ور په یاد وي، کومې چې د ۲۰۰۱ کال د دسمبر میاشت په پینځمه نېټه د افغانستان په اړه د بن په کنفرانس کې کړي وې. په دې کنفرانس کې ځانګړي موخې ټاکل شوي دي، تر ټولو لومړۍ ګام مهمه ژمنه د ناقانونه ملېشو او جنګسالارانو بې وسلې کول او د جنګي جنایتکارانو محاکمه کول دي. دا نوره د زغملو وړ نه دي، چې د نړیوالې ټولنې ځواکونه بیا بیا پر جنګي جنایتونو او د بشري حقوقو سرغړونو باندې سترګې پټوي.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پاژوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

د المان د نړۍ د ګواښمنو ټولنه د المان له صدراعظمي او په افغانستان کې د نړیوالې ټولنې له ځواکونو څخه په ټینګار سره غوښتنه کوي، چې ژر تر ژره وسله والې ملېشې خلع سلاح کړئ او د جنګي جنايتکاران تعقيب او محاکمه پيل کړئ، په افغانستان کې د بشري حقونو او د لړه کيو حقوقونو ساتنه وکړئ
يوه بله الماني ورځپاڼه په نامه دي دويچلندفونک ليکي، په مزاري شريف کې د المان وسله وال پوځ مرکز څخه اټکل ديرش کيلو متره لرې واټن کې يوه پښتون ميشتې سيمه علم خيل نوميږي. دلته يوه سماوات يا چايخونې ته د دغې سيمې د سترو کورنې غړې، د کلې مشران او سپين ګيرې د ناستې پاستې او خبرو اترو لپاره راغونډيږي.
خبريال ليکي، کله چې دوی په چايخونه کې ډاډمن شول او ويې ليدل چې ټولې کړکې او دروازې په مکمل ډول وتړلې شوې، د کليوالو خلکو له منځه يو سړی د ليسټ له مخې د پيښلسو کسانو نومونه ولوستل او وويل، دغه خلک ټول د دغې سيمې خلک دي. دوی ټول د هدفي وژنو ښکار ګرځيدلي دي. په چايخونه کې ناستو خلکو ټول په يوه خوله وويل، چې دا قتلونه د بلخ والي عطا محمد په امر او د ستور ترسره شوي دي.
خبريال ليکي د دې قضيو د پلټنو لپاره کابل ته د "Institute for War and Peace Reporting„ ته ورغلو. د جګړې او سولې راپور ورکولو لپاره انستيتيوټ يو نړيوال خبرې اژانس دی، مرکز يې په لندن کې دی. اباسين نسيمي د دې انستيتيوټ له ډلې څخه يو کارکونکي دي چې دا قضيې پلټلې او څيړلې دي، هغه وايي، د بلخ په ولايت کې ګڼ شمير قتلونه تر سره شوي دي. په ځانګړي توګه د يوه توکم قومي مشران وژلې شوي دي، د پښتون توکم مخور شخصيتونه وژلي شوي دي. هغه همدارار وويل، ورسته له دې چې زموږ د دفتر مسلکي همکارانو په سيمه کې څيړنې او پلټنې تر سره کړې. د دوی د راپور پر بنسټ د افغانستان په شمال کې د پښتنو وګړو د هدفي وژنو تر شا د بلخ والي عطا محمد لاس وه. دا په لوړه دولتي کچه يوه څښته ډيره حساسه مسئله ده، ځکه د عطا محمد نور استخباراتي کسان يا مخبران د مزاري شريف په ټولو برخو کې شتون لري، عطا محمد له دې لارې د مزاري شرف پر ټولو وګړو د ويرې او وحشت يوه فضا خپره کړي ده. عطا محمد په خلکو کې داسې ويره خپره کړې ده، هيڅ څوک له ويرې جرآت نشي کولې، چې د دې هدفي وژنو په اړه خبرې وکړي,,. کله چې د دې هدفي وژنو په اړه له عطا محمد څخه پوښتنې وشوې، هغه په ډير سخت قهر او غضب سره غبرګون وښود او وويل، د دې وژنو عاملين د ده مخالفين دي.
کله چې خبريال د دې هدفي وژنو په اړه د اروپايي پوليسو د ماموريت مشر او د ايساف له قوماندان پوښتنې وکړې. دوی د دې هدفي وژنو په اړه خپله ناخبرې وښووله. د هغو هدفي وژنې په اړه کومې چې د عطا محمد نور په امر تر سره شوې او د کلې سپين ګيرو، مشرانو، مخور شخصيتونو له لورې تائيد شوې او د جګړې او سولې راپور ورکولو د انستيتيوټ له لورې پلټل شوې ثبتې شوې دي.
کله چې خبريال بيا ځلې د ايساف لوی درستيز جنرال ښاغلي برتوليني څخه پوښتنه وکړه. هغه دا ومنل او وويل، هو، د افغانستان په شمال کې عطا محمد په وار وار په جنګي جناياتو کې ښکيل ګڼل شوي دی.
د جګړې او سولې راپور ورکولو انستيتيوټ د کارکونکو په اند، د عطا محمد په وړاندې دا تورنه او جنګي جنايتونه کومې وړې اشتباګانې نه دي، بلکې د عطا محمد هدفي وژنې د يو منظم پلان له مخې د پښتنو وګړو په وړاندې پښتون وژنې يا قومي تصفيه ادامه لري. د عطا محمد وحشت او جنايات ورځ تر بلې مخ په زياتيدو دي .د همدې ريوټ پر بنسټ يواځې د ۲۰۰۹ کال د فبروري مياشت کې څلور ديرش کسه قومي مشران او مخور شخصيتونه د عطا محمد نور په امر وژلي شوي دي. د افغانستان د کورنی جګړه پر مهال په شمال کې عطا محمد نور د يو جنګسالار په څير يواځې او يواځې د پښتنو ډيره کيو په وړاندې جنګيدلي دی. د همدې جګړې او سولې راپور ورکولو انستيتيوټ د کارکونکو پلټنو د ريوټ پر بنسټ نن عطا محمد نور په واضع او عامه توګه د پښتنو قومي تصفيې هڅه پيل کړي، څو د افغانستان شمال له ,, پښتنو پاک ,, کړي.
تازه اوسنی بيلګه د بلخ د مافيايي کړی مشر د عطا محمد وسله والو ملېشو د بلخ ولايتي شورا يو غړی محمد اصف مهمند نيول، وهل، ټکول، شکنجه کول او له نوموړي څخه غوږ په غاښونو شکول يادولې شو.
,,د عطا محمد نور د قومي پاکونې او شړلو تخنيکونه ډول ډول دي، د افغانستان په شمال کې ځنې پښتانه په ډير ساده او اسانه توګه له خپلو کورنوڅخه ايستلې او شړلې شوي دي او ورته ويلې شوې دي، له دغه سيمو ووځئ او دغه سيمه پريږدئ، د دوی کرنيزه مځکې، کورونه او جايدادونه او شتمنی ترينه غضبې شوې دي.
چې څومره ډير اغيزمن شوې پښتانه د مزاري شريف ښار ته را کډه کيږي، په هماغه اندازه وژل کيږي. دوی پښتانه ښوونکې وژنې، او همدارنګه د کليوالو سيمو مخور کسان وژنې، څو موده مخکې د يو ښوونځې مدير


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالې د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکې په څير و لولئ

ووژلو,,. د خبریالانو د رپوټونو پر بنسټ عطا محمد نور یو ډاکټر له دې امله ووژلو، چې د ده ځمکه د ښار په هغه برخه کې وه چې عطا محمد غوښتل هغه ځمکه غصب کړي.
د همدې قومي پاکوني سیاست له امله په شمال کې اکثریت پښتانه طالبان شوي دي. ځکه دوی د خپل توکم له امله د هدفي وژنو ښکار ګرځیدلي دي او د خپلو پلرنې سیمو څخه له شړلو سره مخامخ شوي دي. دې ناوړه حالت د افغانستان په شمال کې پاځونکونکو ته یوه ډېره ښه زمینه مساعده کړي ده.
د دویچلند فوک خبریال مارک ټونرو د المان د ولسي جرګې د بهرنیو چارو د کمیټې له مشر ښاغلي روپریخ پولنس څخه په دې اړه پوښتنې کړي دي، ولې المان او د ایساف ځواکونه د دې جنایاتو په وړاندې څه نه کوي؟.
د المان د ولسي جرګې د بهرنیو چارو د کمیټې مشر په ځواب کې وایي، موږ اجرائیوي صلاحیت نلرو، موږ نه شو کولای چې د افغانانو په ځای عمل وکړو. د اروپایي پولیسو ماموریت (ایروپول ) هم اجرائیوي صلاحیت نلري، دوی یواځې د ښوونې او روزنې دنده پرغاړه لري .د المان د ولسي جرګې د بهرنیو چارو کمیټې مشر زیاتوي او وایي افغان پولیس او د اروپایي پولیسو مامورین موظف دي، څو د افغان امنیتي چارواکو تر څارنې لاندې د دې پیښو څېړنه او پلټنه وکړي.
خبریال لیکي، له عقله وتلي خبرده، د بلخ امنیه قوماندان د عطا محمد له خوا ټاکل شوي دی او بیا دی د خپل مشر پر وړاندې د تر سره شویو جرمونو څېړنه او پلټنه وکړي؟.
د دویچلند فوک خبریال مارک ټونرو بیا هم پوښتنه کوي، ولې د لږکیو وګړو قتلونه او عام وژنې کوم چې د قومي پاکونې په نامه ترسره شوي دي، د افغان حکومت له لوري مخه نه ده نیولې شوې ؟ که څه هم ایساف یا الماني ځواکونو د عطا محمد نور امنیتي ځواکونوته ښوونه او روزنه ورکړي، په داسي حال کې والي عطا محمد د خپلو ځواکونو څخه د عاموخلکو په قتلونو او د سیمه ییز خلکو په شړلو کې کار اخلي. آیا دا پر نړیوالو دفاعي ځواکونو یا ایساف او د المان وسله وال پوځ باندې لعنت نه دی.؟ آیا تاسو اوس مجبور نه یاست چې دلته د بیا رغونې چارې او له خلکو څخه د دفاع دنده نوره پرېږدئ او ودروئ ؟
د المان د ولسي جرګې د بهرنیو چارو د کمیټې مشر ښاغلي روپریخ پولنس لومړیپه فکرونو کې ځښت ډیر ډوبیږي او بیا ځواب وایې، داسي ده، موږ مجبور نه یو چې مرستې ودروو، بلکې زموږ دنده په افغانستان کې امنیت او ثبات ستاتل دي. د افغانستان حکومت د لویدیځ تحت الحمایه حکومت نه دی، بلکې افغانستان د خپل افغان حکومت له لوري اداره کیږي او دغه حکومت په خپله مسوولیت لري.
عطا محمد د حکومت والي په نوم یاده ول یوه ستره تیروتنه ده، والي د ولسمشر له لوري ټاکل کیږي او ولسمشر کولاي شي هر وخت هغه له واکه لرې کړي. عطا محمد په بلخ کې د فساد مافیایي کړۍ مشر دی. د مافیا مشر عطا محمد د ولسمشر د ښې حکومتوالۍ په لاره کې یو ستر خنډ دی، عطا محمد باید د بلخ ولایت له مقامه لرې شي. عطا محمد د یو عادي قالین پلورنکي زوی دی، نن په ډیره بېشرمۍ د دولتي قرار دادنو او د حیراتان له بندره په ناروا لارو چارو د میلیونونو ډالرو او لوکسو ماڼیو خاوند ګرځیدلي دی.
الماني ورځپاڼه جیو پولتیک لیکي، جنګسالار او په جنګي جنایاتو تورن عطا محمد نور د المان د بهرني سیاست تولید دی. ورځپاڼه د المان په بهرني سیاست باندې کلکه نیوکي کوي او زیاتوي د الماني جګپوري سیاستوال په افغانستان کې جنګي جنایتکارانو خپل ملګري ټاکلي. د مزاري شریف د مارمل په کمپ کې چیرته چې اټکل د یو نیم زرو الماني وسله والو پنډغاړي دی، دوی هلته له عطا محمد سره چې په ناوړو بشري حقونو سرغړونو باندې تورن دی، همکاري کوي او لا نور یې ځواکمنوي او عطا محمد نور له خپل واکه ناوړه استفاده کوي. کله چې الماني سیاستوال په دې اړه وپوښتل شول، دوی وویل، امریکانو او موږ د دې لپاره دی غوره وګڼلو، چې دی به د شمال امنیت ډاډمن کړي. او غوښتل مو عطا محمد نور د بل جنګي مجرم دوستم په وړاندې حمایه کړو. ورځپاڼه لیکي یو قتل، جنایي مجرم لکه عطامحمد نور څنګه کولاي شي د شمال امنیت تامین کړي؟. که موږ د عطا محمد مخینې ته لږ ځیر شو، د نوولس سوه اتیایمو کلنو راهیسې عطا محمد نور د افغانستان په ډیرو جګړو کې ښکیل دی. ده ځان په هیواد کې تر ټولو ځواکمن جنګسالار جوړ کړي دی. دوه درې کاله مخکې د Afghan Independent Human Rights Commission (AIHRC) په یوه تحقیقاتي څېړنه کې عطا محمد په مزاري شریف کې د انسانانو د قصابۍ یو کور درلود. د دې څېړنې د خپرولو مخه ونیول شوه او د دې جرمونو څېړنه ترسره نه شوه، د جرمونو په ترڅ کې ډیر بې ګناه انسانان وژلې شوي، په شمال کې د الماني سرتیرو د کنټرول په سیمه کې په دغو پېښو کې د وژلو شویو کسانو یوه برخه نښې نښانې په ډلیزو قبرنو کې موندلې شوي دي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

ورځپانه ليکي که تاسو په شمال کې د عطا محمد نور په اړه د يو عام افغان څخه پوښتنه وکړي، هغه عطا محمد نور يو قاتل، يو جاني او يو جنګي مجرم در پيژني. د ۲۰۰۹ کال راهيسي اوس د افغان څارونکي دې پايلي ته رسيدلي دي، ناټو او لويديځو هيوادونو په دې اړه خپل غوږونه کاڼه اچلولي دي، په ځانګړي توګه په شمال کې د پښتنو لړکيو په وړاندي بريدونه، چې تل يې په اړه راپوروونه ورکړل شوي دي.
خبريال مارک ټونر د ۲۰۱۰ کال راهيسي د المان بهرنی پاليسي خبرداری ورکوي، د المان له لوري په بلخ ولايت کې کومو پوليسو ته ښوونه او روزنه ورکول کيږي، هغه د شاهزاده عطا محمد نور ملېشه ده. د ډيرو کره راپورنو پر بنسټ عطا محمد دغه ملېشه(پوليس) په زره بوګنونکو بشري حقونو په سر غړونو کې ککړ دي
www german-foreign-policy.com
ويپانه ليکي، د افغان په تاجکانو کې د واک او شخصيت ټپنه رامنځ ته شوي ده، عطا محمد غواړي د خپلو پيسو په زور او ايتلافونو جوړو لو له لارې د تاجکانو مشرۍ ترلاسه کړي. يو افغان ژورنالست دې ويبپاڼي ته ويلي دي، چې عبدالله عبدالله د عطا محمد نور لاسپوځی دی.
ځو ځلي امريکايي ځانګړي سرتيري ناخبره د عطا محمد مانی ته ورغلي او په ډګر خبرداری ورکړي دی، کله چې ته ګواښونه کوي او ستا کرني د واشنګټن د کټو او ليولتياوو خلاف وګرځي. دا به د ستا لپاره په ګټه پرينوځي.

## غوښتني او پايلي

د المان وسله وال پوځ، د المان فدرالي حکومت او د ناټو د غوځ ملاتړ ماموريت ځواکونو څخه د امريکی متحدو ايالاتو په نوي ستراتيجی کې د افغانستان د ننه اصلاحاتو او دولت جوړونه بهيرکي په کلکه غوښتنه کيږي، چې د جنګسالارانو او ملېشو له ملګرتيا او ملاتړه لاس واخلئ. د افغانستان په شمال کې د جنګسالارانو سره کومک او همکاري جګړي قومي بڼه غوره کړي ده. د جنګسا لارانو او ملېشو د واک جلا جلا ټاپوګان له منځه يوسئ، دوی هره ورځ افغان دولت ګواښي او دولت ورباندې هيڅ واک نلري. عطا محمد نور بايد د بلخ ولايت له مقامه لرې شي د افغانستان د ثبات او تلپاتي سولي لپاره بايد د شمال ملېشي د تل لپاره منحل شي. افغان سياسي مشران، نړيواله ټولنه او په شمال کې د المان او امريکايي وسله وال ځواکونه د پښتنو هدفي وژنو په اړه نور چوپ خوله پاتي کيدای نشي. دوی بايد د طالبانو تر نامه لاندې د پښتنو پر ضد د ملېشو خپلسری عملياتو او جناياتو مخه ونيسي. د جنګي جناياتو د عاملينو بايد محاکمه ته ودرول شي.
د ملېشو مشر دوستم او جنګسالار عطامحمد نور په شمال کې له طالبانو سره د جګړي په پلمه له ډيره مودې راهيسي په سيستماتيکه توګه د پښتنو او ګجرو عامه وژنه روانه کړي ده. پښتانه او ګجر د قومي تصفيي، تعصب او تبعيض له امله وژل کيږي، دوی کړوال کيږي، له خپلو سيمو شړل کيږي، د دوی پر کورونو او هستوګنځايونو چاپې وهل کيږي، واره ماشومان، سپين ګيري او ځوانان بنديان کيږي، ځمکې غضب کيږي جيداونه، دوکانونه يې چور او لوټل کيږي او ورسره زور زياتی او ظالم کيږي. له دې ښکاري جنګ غوښتونکي عطا محمد نور او د ملېشو مشر دوستم د پښتنو سره فطري دښمني پيل کړي ده. په شمالي ولايتونو کې د پښتنو مخور قومي مشرانو او سياسي شخصيتونو وژل کيږي، په زرګونه پښتني کورنی په زوره کډوالي ته اړ ايستل شوي او له خپلو هستوګنځايونو شړل شوي دي. په شمال کې د دوی دغه غير انساني نا مرده چلند په خپله د طالبانو د رامنځ ته کيدو يو لامل ګرځيدلي دی. طالبانو به هېڅکله په شمال کې خپل نفوذ او حضور نه وای پراخ کړي، که چيری د شمال مېشتي پښتانه په دې ډول نه وای ځورولي شوي. دوی مېشت پښتانه د طالبانو په ملاتړ ملامتوي. د افغانستان په شمال کې زور واکي او خپلسري جنګسالاران او ملېشي د پښتنو او ګجرو سيمو ته ورځي، د دوی مشران، ځوانان او تنکي ماشومان پرته له دې چې کوم جرم ورباندې اثبات شي، ځورول کيږي، بنديان کيږي، برمته کيږي، د خلکو شتمنی چور کيږي او ناراو ظلمونه پري کيږي. دوی ميشتو پښتنو پر خلاف خپلو تبعيضي کړنو ته دوام ورکوي، ګوجر او پښتانه په ناحقه توګه وژل کيږي، او د وسلې په زور له خپلو پلرنی سيمو او کورونو په اجباري توګه کډوالی ته اړ ايستل شوي دي.
د افغانستان د بشري حقوق خپلواکه کميسون د يوې ځانګړي کړي په لاس کې دی. د دې کميسيون مشره سيما سمر په خپله په قومي تعصب او تبعيض کې ښيکيله ده. د بشري حقوقو کميسيون په شمال کې د پښتنو د عام وژنو او قومي تصفيي په وړاندي چوپه خوله غوره کړي ده. د همدې متعصبي ښځي له کبله په افغانستان کې د ملګرو ملتونو، د بشري حقوقو نړيوال سازمانونو او د ناټو هيوادونو هم چوپه چوتيا غوره کړي ده. پای


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de

یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ